

د نن یعنی د ۲۷ اپریل څخه په جرمني کې د ماسک اړتیا ده او
باید واچول شي.

د ماسک اچول د سودا اخیستلو په وخت کې او د ترانسپورتي وسائلو په وخت کی یعنی
په ټرینونو بسونه او داسی نور ترانسپورتي وسائلو کی.

د روزمره ماسک اچولو لپاره باید سړی څه شي ته متوجه واوسي؟
مونږ ستاسو لپاره ټول مهم معلوماتونه په لنډه توګه
یوځای کړي

## کوم ډول ماسکونه باید واچول شي او یا اجازه لری؟

- یو ښه قالب لرونکي د خولی او پوزې ساتنې لپاره
MNS
- FFP - طبي
د ساه د حفاظت ماسکونه
- په خپل لاس د ټوټی څخه ګنډل شوي ماسکونه
- شال او یا دسمالونه

فرق نه کوي چی کوم ډول ماسکونه باید واچول شي صرف مهمه دا ده چې
خوله،پوزه او زنه پری بنده او یا پوښ شوی اوسي.
په انترنیت کی په خپله د ګنډلو لپاره طریقې شته

## کوم ځایونو کی باید ماسکونه واچول شي؟

په عمومي توګه په جرمني کې باید ماسکونه د سودا اخیستلو په وخت کی او
د ترانسپورتي وسائلو په وخت کی یعنی په ټرینونو بسونه او داسی نور ترانسپورتي
وسائل په وخت کې واچول شي. بغیر له برلین څخه چی هلته د سودا اخیستلو په وخت کی
ماسکونه نه اچول کیږي.
دقیق قانون د ولایتونو تر منځ توپیر لري نو له همدي کبله مهرباني وکړئ
کی څه شي ته باید متوجه واوسئ ( Bundesland ) ځانونه په مکمله توګه خبر کړی چی ستاسو په ولایت
کی ماشومان هم باید ماسکونه واچوي په عامه توګه (Bundesländern) د والدینو لپاره مهم: په ځینو ولایتونو
ماشومان له قانون څخه بحر دي. په ځینو ولایتونو کې ماسکونه باید د مکتب ماشومان او
په ځینو کی د ۶ کالو عمر څخه زیات ماشومان واچوي نو له همدي کبله
مهرباني وکړئ ځانونه هم دلته خبر کړئ چی
کوم ډول قانون ستاسو په ولایت کی د ماشومانو لپاره په نظر کې نیول شوې دی

## محافظوي دنده

روزمره ماسکونه
چی کوم کسان اچوي، حفاظت نه کوي
خو دغه ماسکونه مرسته کوي چی
دغه مرض بل انسان ته ولاړ نه شي ځکه چې دا د خولی لاړې بیرته راګرځوي کومی
چې د خبرو او یا د ټوخې په وخت کې د انسان د خولی څخه ووځي. او هم مخنیوی کوي کله چې
تاسو لاسونه خولې، پوزې او مخ سره لګوئ.

## څه شی باید سړی د ماسک اچولو په وخت کی په نظر کې ونیسي؟

- په دی ماسک سره باید خوله، پوزه او زنه پوښ شوی او یا بند
واوسي.
- د ماسک اچولو په وخت باید سړی د ماسک سره لاس
ونه لګوي یعنی د بندونو څخه یې ونیسی او واچوي.
- که چیری دغه ماسک د ساه ویستلو او اخیستلو له
کبله لوند شوی وي، باید بدل کړای شي.
- د ماسک لری کولو په وخت باید له بندونو څخه
ونیول شي او لری کړل شي.
- ماسکونه،دسمالونه
او یا شالونه باید په په ۶۰ درجو کی د جامو په ماشین کی پریمنځل شي.

ArrivalNews

TranslAid